ډاکټر ش میره کی ۲۰۲۶/۰۶/۲۴

# محرقه (وچکی) څرنګه ناروغي ده؟

ګرانو دوستانو ! زمونږ د هیواد په اکثرو ولایتو کې هوا ډیره ګرمه شوي ده ، نو تاسو څخه هیله کوم څه خپله روغتیا او نظافت ته مو پام کوي په خصوص په دې فصل کې کولارا ( وبا )، محرقه ( وچکی ) او داسې نورې ناروغي زیاد لیدل کیږي په دې توګه د دې ناروغی په هکله مه یو سی معلومات درته برابر کړی ده هیله ده څه خوش مو شي .

محرقه ( وچکی ) یا Typhoid

وچکی یوه مستقیمه ساری ناروغي ده څه په مستقیمه توګه د یو شخص نه بل شخص ته سرایت کوي .
دا ناروغی په هر کال کې په سلونو زره خوار او غریب خلک په ټوله نړی کې وژني.

ددې ناروغی عامل یو ډول میکروب دی(Salmonella Typhi) چې د ناولو اوبو او خوړو په وسیله انسان ته سرایت کوي.پدې معنی چې نوموړی میکروب د انسان مدفوعاتو(مواد غایطه) له لارې چاپیریال ته انتشار کوي او نور انسانان ددې مدفوعاتوپه وسیله په چټل شویو خوړو او اوبو، پدې ناروغی اخته کیږي.

په افغانستان او ورته هیوادو کې دا دی څه بیا د وړي موسم راغی،پدې موسم کې د ډول ډول نورو ناروغیو تر څنګ د وچکی ناروغی هغه خطرناکه میکروبي ناروغي ده چې بې له شکه به یو ګڼ شمیر خلک ،خاصتاً کوچني ماشومان د مرګي منګولو ته ورسپاري.
پداسې حال کې چې د دا ډول ناروغیو مخنیوی د ټولنې د پوهنې د سطحې د لوړتیا سره کلك تړاو لري خو پدې برخه کې تر ټولو ستر مسؤلیت د حکومت په غاړه ده .
لمړی باید مسولین په دې پوه وي چه د ټولنې لمړي ، او تر ټولو مهم اړین څه دئ ؟
پدې کې شك نشته چې د جنګ په حال کې د جنګ "موفقانه" ختمول تر هر سی لومړیتوب لري.خو د دې تر څنګ ښونه اوروزنه، روغتیا،کور-کالي-ډوډی او د هیوا د ودانولو لپاره بنسټیزو او سترو ساختماني پروژو ته هم ډیره اړتیا لیدل کیږي. یو د دې سترو اساسي او زیربنایي ساختمانو له جملې نه په ښارونو کې په عصري ډول د مناسبو بدرفتونو جوړول " sewage treatment plant"یا "sewage treatment works" یا "کاناﻻزیسیون" او په کلو کې دنړیوالو سازمانونو په مرسته لازم تدابیر نیول دي٠
یو خورا ضروري او حتمی عادت چې هر وګړی یې باید زده کړي هغه داسې تر رفع حاجت روسته او د خوړو سره له تماس د مخه خپل لاسونه حتما ومینځی(که صابون موجود وي حتماً دصابون نه کار واخلئ ).
د انساني مدفوعاتو نه د سرې یا پارو په توګه استفاده باید قانوناً منع شي، دا عمل باید جرم وګڼل شي،ځکه چې پدې توګه ناروغي انتشار کوي.
که بله چاره نه وي نو پشکو نه ئې زده کړي ، خدای ج دې حیوان یعني پشو ته داسې عادت ور په برخه کړی چې خپل مدفوع تر خاورو لاندې ښخبوي. خو ځینې انسانان لا اوس هم خپل مدفوع د اوداسه په محال داسې یوې ویالي ته ور اچوي چې هلته کوز نور خلك ترې اوبه ښُبي٠

په وچکی اخته ناروغ څنګه پیژندل کیږي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پداسي حال کي چي په وروسته پاته ټولنو کي د میکروبي ناروغیو شمیر کم نه ده د وچکی پیژندل او تشخیص هم اسان کار ندئ .
په وچکی اخته کسان چه درملنه شوی نه وي د څلورو اونیو لپاره د دي ناروغی اعراض او علایم څرګندولی شي٠

په لمړني اونی کي ناروغ د تبې ،د اشتها کموالی، د خولې بد مزګئ،
سردردي،کسالت ،د ګیډې درد او د ټوخی نه شکایت کوي.
یعني د ناروغ د زړه حرکات بطی شي(bradycardia)، کیدی شي چي د پوزې نه یي وینه راشي .

د ویني معاینه:

د ویني سپین ګردي(WBC) سپین کرویات لږ شی ،د ویني کلچر کولی شي چي د ناروغی عامل تثبیت او ښکاره کیږي.
د widal test چي یو لابراتواري معاینه ده لا منفی وي.

په دویمه اونی کي ناروغ په بستر کي ناتوانه بیحرکته او بیحاله غزیدلی وي خو کله ناکله له ځانه سره بی معنی خبرې هم کوي ،هزیان اوچټیاټ وایي او چیغی وهي.
تبه تر ٤٠ سانتیګراد درجي پورې پورته شي چي معمولا تر غرمی وروسته په ماسپښین کي لوړې درجي ته رسیږي.
کیدی شي چي ناروغ قبضیت یا اسهال(ناست ناستي ) ولري.

کلځه ناروغ د ډاکټر لخوا وکتل شي لاندني علایم د لیدلو وړ وي:
تبه،د پوستکي سره داغونه (rose spots)،د لړمون ( ځیګر یا اینه ) او توري غټوالی(Hepatosplenomegaly)
د ګیډې درد او د کولمو د غړ جګوالی،د نبض ټیټدل (معمولاً کلځه ناروغ تبه ولری د هغه د زړه یا قلب حرکات زیات شي،خو په دې ناروغی اخته وګړو زړه دا توان نلري)

د ویني معاینه:

په دویمه اونی کي د Widal test شدیداً مثبت شي او د ویني کلچر کیدی شي چي لا هم د میکروب موجودیت ثابت کړي.

دریمه اونی:

تبه لاهم موجوده وي خو پدې اونی کي د اختلاطاتو خطر خورا زیات شي.
تر تولوخطرناك اختلاط یا complication د وړو کولمو سوري کیدل یا intestinal perforation
دی چي خاصتاً په وروسته پاته ټولنو کي د مړيني سبب کیدی شي.
د کولمو خونریزي د مغز ابطلا او ورته اختلاطات هم رامنځته کیدی شي.

څلورمه اونی:

پدې اونی کي ناروغ مخ په ښه کیدو شي. اشتها پیدا کوي او تبه ورو ورو له منځه ځي خو که نا روغ په ناقصه توګه د انتي بیوتیك په وسیله تر معالجي لاندې راغلی وي، ددې خطر وجود لري چي

ناروغي تکرار شي (Relapse).

سرایت:
لکه چي مخکي هم یادونه وشوه د محرقی د ناروغی عامل ،ددې ناروغی د اخته وګړو د مدفوعاتو په وسیله چاپیریال ته خپریږي او نور انسانان بیا د هغو خوړو او اوبو د مصرف له امله چي ددې ناروغ د مدفوع سره په مستقیم تماس کي راغلي او یا هم د مچانو، ناپاکه لاسونو اویا په ورته نورو وسایلو ککړ شوی وي، اخته کیږي.
٣-٥ سلنه هغه ناروغان چي ددې ناروغی نه روغتیا ومومي په دوامداره ډول د ټول عمر لپاره د محرقی د مرض عامل، پخپلو مدفوعاتو(مواد غایطه) کي او چاپیریال ته خپروي.

مخ نیونه :


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

په ښونځو کې ښونکي صاحبان، په جوماتو کې ملاصاحبان او په میډیا کې د هغو چلونکي ایمانئ او وجدانئ مسولیت لري چې خلکو ته د پاکي او نظافت په هکله وعظ او نصیحت وکړي.
قدرمنو خلکو :د خپل روغتیا د ستر دښمن لپاره باید د خپلو مدفوعاتو د ځای پر ځای کولو په صحي توګه ،کشف یا اختراع کړي.

هغه افغانان چه له امریکا،یورپ او استرالیا نه پس له ډیره وخته افغانستان،پاکستان، هند، ایران ،سعودي،مرکزي اسیا او یا جنوب شرقي اسیا ته سفر کوي باید خپل ډاکټر ته ورشي او واکسین واخلي. واکسین دوه یا دري کاله تاسو ته معافیت درکوي او د ضرورت په وخت کي باید تکرار شي.


درملنه:

په مختلفو هیوادونو کي مختف انتي بیوتیکونه استعمالیږي. د خپل ډاکټر هدایت مه هیروي.

ځیني خلك پدې عقیده دي چې محرقه په ملاریا یا ملاریا په محرقی بدلیږي. دا یو غلط نظر دی.
دغه راز یو ګڼ شمیر نور میکروبي ناروغي شتون لري چې محرقی ته ورته دي. ستاسو ډاکټر کولی شي پدې هکله در سره مرسته وکړي.
بعضې وګړي د هرې تبې سره د ډاکټر نه غواړي چې د محرقی لپاره معاینات وکړي.باید په یاد ولرو چې د محرقی د تشخیص خورا با اعتباره یاgold standard ټست په وینه کې د میکروب منل یا د شتون اثبات دی چې دا معاینه د وینې د کلچر په مرسته سرته رسیږي خو بواځې په دو لمړیو اونیو کې په وینه کې د محرقی د میکروب شتون توقع کیدی شي( یوه با اعتباره او مجهز لابراتوار ته اړتیا)
تر هغی وروسته، سره ددې چې ناروغ په محرقی اخته هم وي مګر په وینه که د میکروب پیداکول ناشوني ښکاري.

د ناروغۍ په دویمه اونۍ او تر هغې وروسته میاشتو او کلونو کې،په بدن کې د محرقی د عامل یا salmonella typhi د موجودیت غیر مسقیم علایم (a positive Widal Test) تر لاسه کیدی شي چې متاسفانه دا ټسټ یا دا معاینه د یوه فعال او تازه ناروغ د شتون او یا د محرقی د هغې ناروغی تر منځ چې پخوا تیره شوی او ناروغ ترې روغتیا موندلي وي ، فرق کولی نشي.

نتیجه دا چه د یوه مجرب ډاکټر په مرسته د محرقی لومړی تشخیص او درملنه خورا مهم ده او لابراتواري معاینات هله رارسیږي چې ناروغ مخ په روغتیا او یا هم تشخیص نادرسته وي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ